Northwest IMMIGRANT RIGHTS Project

د ډسمبر لومړۍ نیټه ۲۰۲۵

مونږ د ملی ګارډ په دوه ځوانو سرتیرو د ډزو پیښی سخت خواشینی کړی یو. همدا راز، مونږ د سارا بیکسټروم کورنۍ او خپلوانو ته خپله ژوره خواخوږی وړاندی کوو او د بریډمل انډریو ولف د بشپړی روغتیا په هیله یو.

دا ډیره مهمه ده چی دا بی معنی تاوتریخوالی د نورو بی ګناه خلکو د ژوند خرابولو لپاره او نه هم باید د قانون د حاکمیت د توجیه او ضعف لپاره وکارول شی. لکه څرنګه چی ستری محکمی واضح کړی «د تړاو په سر ګناه» د یوی ازادی ټولنی د ارزښتونو سره په ټکر کی او بی معنی مفهوم دی.

میرمن لکنوال او د هغی کمکی ماشومان په دغه خونړی برید پوری هیڅ تړاو نه درلود او دوی باید د بل چا د کړنو له امله په نښه نه شی. د شمال لویدیز د مهاجرینو د حقونو پروژه به د دوی تر څنګ ولاړه وی تر څو په دی سختو او د ننګونو څخه ډکی راتلونکی کی د یادی کورنۍ ملاتړی اوسی.

سربیره پر دی، دلته د واشنګټن په ایالت او یا هم د هیواد په نورو برخو کی، د افغانی ټولنی نور غړی باید د یو فرد د کړنو له امله په نښه نه شی.

زمونږ افغان ټولنه د وړاندی هم د تاوتریخوالی له امله ډیرو کړاونو او دردونو سره لاس او ګریوان وه، او په حقیقت کی ډیری یی د ځورونی او مرګ له ګواښ سره مخ شوی دی ځکه چی دوی یا د کورنیو غړو یی د متحده ایالاتو د اردو یا نورو حکومتی ادارو سره کار کړی دی. په همدی دلیل دوی ته دلته اقامی ورکړل شوی. د امریکا متحده ایالات باید خپلو ژمنو باندی ودریږی او باید د هغه کسانو حقوق خوندی وساتی کوم چی په متحده ایالاتو کی په قانونی توګه د اوسیدو وړ دی. د ټولنی دغه غړی د قانونی حقوقو څخه د محرومیدو مستحق نه بلکه زمونږ د ملاتړ او مننی حقداره دی.

زمونږ حکومت باید د کډوالو مقصر کولو وسوسی غاړی ته پریږدی او پر ځای یی باید د قانون حاکمیت وساتی چی زمونږ ډیموکراسی پری جوړه شوی ده. د قانون حاکمیت د دی ایجاب کوی چی مونږ قوانین سره د ټولو مصوونیتونوپه ټولو رغایت او تطبیق کړو، په خاصه توګه د ټولنی زیانمنو خلکو لپاره چی د تبعیض د لمبو نه په ضرر کی وی.

د رسنیو سره د اړیکی برینښنالیک: communications@nwirp.org